# تصوف او د هغه حقیقت

**لیکوال: پوهیالی سراج احمد ژواک**

**لنډیز**

د بشریت په تاریخ کې بشر له الهي عذاب څخه د ژغورنې او الله سبحانه وتعالی ته د قربت او نیږدې والي په پار له ګڼو لارو او طریقو څخه کار اخیستی دی. ځینو د خپل عقل او منطق پر مټ داسې لارې چارې د وسیلې په توګه غوره کړې دي، چې له آره د وخت له رالېږل شوي الهي دین سره هیڅ تړاو نه لري او هغه هم په داسې حال کې چې په پلې کولو کې یې عاملین له ګڼو روحي او جسمي نارامتیاوو سره مخامخ کېږي؛ خو ځینو نورو بیا په بېلابېلو وختونو کې د وخت له رانازل شوي الهي دین سره اړوند د دې ډول لارو چارو د موندنې هڅې کړې دي، چې له نېکه مرغه د هغوی له ډلې څخه یوه یې هم د اسلامي شریعت په چوکاټ اسلامي تصوف او عرفان هغه ده. څکه په دې کې د الله سبحانه وتعالی د ذکر د کثرت او د نفس د تزکیې له لامله انسان په داسې لوړو اخلاقي صفاتو موصوف کېږي چې په دنیا او اخرت کې یې له ازمویښتونو او عذابونو څخه د ژغورنې لامل کېدای شي.

**بنسټیز ویونه: تصوف، عرفان، اخلاق او حقیقت.**

**سریزه**

که څه هم آن لا تر اوسه پورې ځینې داسې کسان هم شته چې د تصوف او عرفان د سرچینې او لاسوندونو په باب یې هر وخت په زړونو کې شک او تردد غزوني کوي. ښایي د دې یو لامل هم هغه د تصوف عاملین وي چې په کړنو کې یې له ورایه د اسلامي شریعت د سپېڅلو فرامینو څخه انحراف سترګکونه وهي او دوی یې هم پرته له بنسټیزې څېړنې او پلټنې د ګروهې پر وثوقیت د رد مهر لګوي. غوره خو دا ده، چې منکرین یې خپله هم لومړی د شریعت د هر اصل آر مفهوم او معنا ته ځیر شي او بیا وروسته په ورته اقدام لاس پورې کړي. خو له بدمرغه چې تر ډېره بریده داسې نه کېږي، پر همدې پار وپېتېل شوه، چې پرته له کوم میلانه، د اسلامي شریعت په رڼا کې د

تصوف د وثوقیت په باب ستاسو ښاغلو لوستونکو سره د زړه خواله وکړو.

**تصوف او د هغه حقیقت**

د تصوف د پېژند اړوند ډېرو پوهانو او د هغه عاملینو خپل اندونه څرګند کړي دي، ځینې یې د خدای او بنده ترمنځ د پردو د لرې کولو وسیله او ځینې نور یې بیا پر شریعت باندې د زړه له اخلاصه عمل کول ګڼي؛ خو تر ټولو نه ډېر زما پر زړه د پښتو غزل د بابا اروابښاد امیر حمزه شینواری پېژند خپلې منګولې خښې کړې دي. هغه یې اړوند فرمایي چې:

«د انسانیت له عنصر څخه د حیوانیت او ملکیت تسلط پوره کول او دواړه د انسانیت تابع کول تصوف دی»(۶/ ۱۹).

ځکه تر بلې هرې ګروهې او عقیدې تصوف هغه ډېر د انسان په وجود کې د انسانیت د جوهر د راټوکېدو لامل کېدلای شي او کله چې د کوم انسان په وجود کې د انسانیت آر جوهر راټوکېږي، له شک پرته به د بل هر انسان په پرتله الله سبحانه وتعالی ته ډېر نېږدې او د هغه تبارک وتعالی نور به یې په وجود کې په ځپو وي. له همدې لامله ده چې د تصوف ډېرې علمبرداران د نړۍ پر مخ د ربښتینې انسانیت غوښتونکي پاتې شوي دي؛ چې د بولګې په توګه یې د حضرت مولانا جلال الدین بلخي ثم رومي او اروابښاد امیر حمزه شینواري لاندې بیتونه وړاندې کولای شو:

دی شیخ با چراغ همی گشت کرد شهر
کز دیو دد ملولم و انســـانم ارزو ست
گـفتیم، یافت می نشود جســـــته ایم ما
گـفتند آنکه یافت می شود آنم ارزو ست

***

حمزه ډېر مسلمانان شته په دنیا کې او کافر هم
زه اشنا د هغه کس یم چې روش یې د انسان وي

د تصوف د پېژند اړوند غوره او کره خبره دا ده، چې دا ډول ذاتي تجربې تر ډېره بریده د الفاظو په ځولی کې نه شي راتلای؛ ځکه الفاظ د بیان ناقصه لړۍ ده او هره نقیصه د موخو په لاسته راوړلو کې له چا سره مرسته نه شي کولای. تصوف ته ځکه ذاتي تجربه وایو چې دا یوازې او یوازې د کړنې پر محور را چورلي، یعنې هر چا چې په خپله کړنه کې څه مشاهده کړي او حس کړي وي، موږ او تاسې ته هم هماغه څه د اظهار لپاره لري؛ پر کړنې باندې په الهی کلام قران عظیم الشان کې هم ډېر ټینګار شوی دی، چې د بولګې په توګه یې لاندیني دوه مبارک ایتونه وړاندې کولای شو:

«یَاَیُّهَا الَّذِینَ ءَامَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَالَاتَفعَلُونَ. کَبُرَ مَقتاً عِندَاللهِ اَن تَقُولُوا مَالَاتَفعَلُونَ» (الصف سورت/ ۲ او ۳ ایت)

یعني: اې هغه کسانو چې ایمان مو راوړی دی، ولې داسې خبرې کوئ، چې وربانديې عمل نه کوئ. دا د الله(ج) په نزد ډېره لویه دښمني او کینه ده، چې یوه خبره کوئ، خو عمل وربانديې نه کوئ.

نو اوس خبره دا ده، چې که چېرته موږ داسې کړنه نه وي ترسره کړې او په هغې کې مو داسې څه نه وي مشاهده کړي، نو د دوی د خبرو په آر مفهوم به راته پوهاوی طبعاً ستونزې را وټکوي.

له همدې لامله ده، چې نن وخت د بل هر علم، فن او کړنې په پرتله د تصوف اړوند د شکاکیونو شک او تردید ډېر تر سترګو کېږي؛ هغه هم په داسې حال کې چې که چېرته په ژور نظر ورته وکتل شي، د تصوف د منکرینو مسلمانانو په پرتله متصوفینو هغو، ډېر د شریعت سپېڅلي فرامین پر ځانونو پلي کړي دي.

د دې شک او تردد یو لامل ښایي دا هم وي چې له آره د تصوف په نوم کوم څه د رسول اکرم (ص) په وخت کې نه وو، خو دا جوته ده چې د حضرت محمد(ص) او تر هغه وروسته د اصحابو

او بیا تابیعینو په ژوند کې د نېکی، عبادت، فقرواستغناء، توکل، ایثار او پاکی په څېر ارزښتونو ښه تود بازار لاره او همدا ښېګڼې د اسلامي تصوف بنسټ باله شي. (۴/ ۴۲)

له شک او تردد پرته به د ډېرو بودایي، هندي، یوناني، چیني او داسې نورو دوی ته ورته ګروهو د پلیونو په کړنو کې د اسلامي تصوفي ګروهې د تګلارې څرکونه لیدل شوي وي؛ خو دا خو په دې معنا نه شي کېدای، چې مونږ د دې تشابهت له لامله آن له دې د شریعت پر سپېڅلي آرونو استوار هغه څخه پرې د خپلې عقیدې سترګې پټې کړو. د پورتنیو ګروهو او عقیدو سره یې تړاو هم د هغوی غوندې د دې له لامله دی، چې تصوف هم غواړي، چې انسان یوازې او یوازې سوچه انسان پاتې شي او د حیوانیت او ملوکیت د عناصرو له جغ څخه خپل ځان وژغوري. یعنې که چېرته د حیوانیت خوا ته تمایل وښیي، نو اسفل السافلین ته به ولاړ شي او که چېرته د ملوکیت عناصر پرې غالب شي، نو دا مقام خو هم د انسانیت په پرتله ټیټ دی، ځکه که چېرته ټیټ نه وای، نو بیا ولې خدای تعالی فرېښتو ته امر کاوه، چې ادم علیه السلام ته سجده وکړي؛ چې د عظیم الشان قران دغه لاندې ایت شریف یې ښکاره لاسوند کېدای شي:

« وَاذ قُلنَا لِلمَلائکَة اسجُدُوا لِادَمَ فَسَجَدُوا الّا ابلِیس اَبی وَالستَکبَرَ وَکَانَ منَ الکافِرینَ»

یعنې کله چې فرېښتو ته امر وشو چې ادم علیه السلام ته سجده وکړئ، هغوی سجده ورته وکړه او شیطان ترې سرغړونه وکړه، کبر او غرور یې وکړ او دی د کافرانو له ډلې څخه ؤ.

نو خبره یوازې او یوازې په انسانیت کې ده. که په بل هر مذهب او ګروهه کې هم د انسانیت د جوړېدو هڅه وشي، تصوف وسره کومه ستونزه نه لري، د هغوی کلیسا او مندر ته هم د قدر په سترګه ګوري.

که مسجد ګـــــورې که دیـــــر
واړه یو دي نشـــته غـــــــیر
(حضرت خوشحال خان خټک)

او یا:

غیر فکر دوزخي شي په کــــې سوځي
زړه مې ګرم تر سقر دی ستــا له درده
یو زګېروی کا په مسجد په میخانه کې
مسلمــــان دی که کافر دی ستا له درده (۵/ ۱۶۸)

همدا لامل دی، چې د پښتو معاصر غزل بابا او د تصوف د چشتیه لارې (طریقې) پلیونې حضرت امیر حمزه شینواری د تصوف پېژند داسې کړی دی چې:

« د انسانیت له عنصر نه د حیوانیت او ملکیت تسلط پوره کول او دواړه د انسانیت تابع کول تصوف دی.»

دا پېژند تر ډېره بریده زموږ او ستاسو سره د تصوف د هغې آرې اړتیا او وړتیا په درک کې مرسته کولای شي، ځکه تصوف د ټولو اخلاقي رذایلو څخه د ژغورنې یوه هڅه او په ټولو ښکلو اخلاقي صفاتو موصوف کېدل دي. نو ځکه ځینو مشایخو صوفیانو ته د اخلاقو زړی د تصوف په پټوکي کې ښکاري او دې مقام ته د رسېدو هڅه یوه ستره نېکمرغي ګڼي. حضرت ابوعلي قزویني (رح) فرمایي:

« تصوف داسې اخلاقو ته ویل کېږي، په کومو چې الله تعالی راضي کېږي.»(۸/ ۱۸)

حضرت ابوالحسن نوري (رح) یې بیا په اړه فرمایي:

«تصوف د علم او فن نوم نه، بلکې د اخلاقو د مجموعې نوم دی.» (۸/ ۱۸)

حضرت شاه ولي الله محدث دهلوي(رح) خو آن په اسلامي شریعت کې لا د اخلاقو د مقام او ځای ځایګي په اړه تر دې حده وړاندې ځي، چې فرمایي چې پیغمبران د اخلاقو، تهذیب او د نفس

تزکيي ته توجه لري او په علمي مسايلو کې مستقيم دخالت نه کوي(۲/۱۰۹) مطلب دا چې پيغمبر د علم او فلسفي معلم نه دی، د انسانيت مربي او اخلاقي رهبر دی. ځکه د نفس تزکيه او د روح تربيه خپل هدف ګڼي او وايي: «بُعِثتُ لاُتمم مَکَارِمَ الاَخلاق» الله تعالی هم د ده ستاينه په «خُلُق عظيم» کوي: «وَاِنکَ لَعَلی خُلقٍ عَظيمٍ» (سورت قلم/ ۴ ايت)

خو دې لوړ اخلاقي مقام ته رسېدل هم تر هغې شونتيا نه مومي چې تر څو يې هڅاند د زړه له کومي پرې ګروهمن ونه اوسي؛ ځکه هر وخت ګروهه د انسان د ارادې او اراده يې د محرک لامل ګرځېدلې ده.

نو تصوف تر ډېره د اسلامي شريعت د هر آر تر شا پټې پرتې عقيدې او ګروهې سره تړاو لري؛ دا خو ځرګنده خبره ده، چې د انسانانو هره کړنه له آره د هغوی له عقيدې څخه سرچينه اخلي او پر همدغې وېړ منځي (محور) راچورلي. يعني که چېرته د عقيدې او ګروهې پر تندې کوم داغ موجود وي، نو د کړنې پر هينداره به هم هو به هو هماغه داغ خپل وجود راڅرګند کړي؛ داسې خو نه شي کېدای چې يو څوک دې د يوې عقيدې آرونه پر ځان پلي کوي او خپله دې پرې ايمان ونه لري.

پر اسلامي تصوف باندې د هغه ځيني منکرين يوه نيوکه دا کوي، چې ګروهمن يې په ځينو خاصو حالاتو کې يا د قرانکريم د ځينو ايتونو د تلاوت په وخت کې او يا د ځينو خاصو شريعي نصوصو د بيان په وخت کې يو ډول جذبه کوي او د دې جذبې اسلامي او شريعي کومه ريښه تر دې دمه چاته نه ده ځرګنده شوې. خو د دوی د دې پوښتنې يو ځواب ښايي د قران عظيم الشان دغه لاندې مبارک ايت شريف تر بل هر هغه ښه وګرځېدای شي؛ چې: «اِنَّمَـاالمُومِنُونَ اَلَّـذِينَ اذَا ذُکِـرَاَللهُ وَجِلَتُ قُلُوبُهُم وَاَذَا تُلِيَت عَلَيهِم اَيَاتُهُ زَادتهُم ايمَاناً...» (الانفال سورت/ ۲ ايت)

يعنې مومنان هغه خلک دي چې کله خدای تعالی ياد شي، نو د دوی زړونه ولړزېږي او کله چې ورته د قران کريم ايتونه تلاوت شي په ايمان کې يې زياتوب راشي. (۳/ ۲۸)

له بلې خوا، دا خو به ټولو ته ځرګنده وي، چې اسلامي شريعت داسې راغلی چې په کې د پرتو رانازلو شوو سپېڅلي فرامينو يوه برخه نظري جنبه او اړخ لري، بله هغه يې عملي جنبه او اړخ او درېيمه هغه يې بيا داسې دي چې هم نظري جنبه او اړخ لري او هم عملي هغه. هغه چې تر ډېره له نظري او تيوريکي اړخ سره تړاو لري هغې ته ايمان او هغه چې تر ډېره د عملي هغې سره تړاو لري ورته اسلام او هغه چې له دې دواړو سره تر ډېره بريده تړاو لري ورته احسان ويل شوی دی. د دې وېش دا لاندې قدسي حديث شريف، چې د آرې ښې د نه موندنې له لامله يې يوازې ژباړه او مفهوم راوړل شوی، ښکاره لاسوند کېدای شي:

«وايي چې يوه ورځ رسول اکرم (ص) د نورو يارانو او صحابه کرامو سره په يوه مجلس کې ناست ؤ، چې حضرت جبرائيل عليه السلام په داسې حال کې چې سپينې جامې يې پر تن وې او د سفر کومې نښې نښانې پرې نه ښکارېدې ورته راغی، خپلې ګونډې يې د رسول اکرم (ص) له ګونډو سره ولګولې او تر پوښتنه يې وکړه، چې اې د خدای رسوله! د ايمان نه مې خبر کړه، رسول الله(ص) ورته وويل چې ايمان دا دی، چې ته په خدای تعالی د هغه پر فريښتو، کتابونو، رسولانو، د اخرت پر ورځې او دا چې خير و شر ټول د ده له اړخه دي او تر مرګ وروسته پر بيا ژوندي کېدو يې ايمان ولرې، حضرت جبرائل عليه السلام يې هم د دې پېژند رښتينوالی ورسره مني، له هغې وروسته بيا ترې د اسلام په هکله پوښتنه کوي، رسول الله (ص) ورته وايي چې اسلام دا ده چې ته کلمه ووايې، لمونځ وکړې، روژه ونيسې، ذکات ورکړې او که دې چېرته په وس کې وي حج ته ولاړ شې، جبرائيل عليه السلام يې بيا د خبرې منښته کوي او د درېيم ځل لپاره ترې د

احسان په هکله پوښتنه کوي، رسول الله (ص) ورته ووېل چې احسان دا دی چې ته داسې عبادت وکړې، لکه ته چې خدای تعالی په خپلو سترګو وینې او که داسې یې نه شې کولای، داسې عبادت خو وکړې لکه خدای تعالی چې تا وینې، په دې خبره هم جبرائیل علیه السلام ورته ووې چې رښتیا دې ووې.»

د دې حدیث شریف مفهوم او موخه موږ په دې پوهوي چې د اسلام سپېڅلی شریعت درې بعده یا اړخونه لري چې هغه عبارت دي له ایمان، اسلام او احسان څخه. د احسان څخه یې ډېری عالمان او څېړونکي د اوسني تصوف او طریقت مفهوم اخلي او دا خبره تر ډېره بریده سمه هم ده، ځکه تصوف هماغه ده چې په کې د خدای تعالی عبادت بویه داسې وشي، لکه څرنګه چې په خپلو سترګو عابد خدای تعالی وینې، نو کله چې څوک خدای تعالی په خپلو سترګو وینې، نو بیا کله د هغه په عباداتو کې د یوه ذرې په اندازه هم غفلت او ټنبلي کولای شي.

د تصوف پیل له دې څخه کېږي، چې صوفي به تر هر څه وړاندې په خپلو تېرو ګناهونو پښېمانتیا څرګندوي او د پیر سره به پر دې ژمنه کوي، چې د راتلونکو لپاره به تر خپلې وسې له هر ډول ظاهري او باطني ګناه څخه ځان ژغوري او د قراني ارشاد د لاندې ایتونو مفهوم به په بشپړه توګه پر ځان تطبیقوي:

«وَذَرُوا ظَٰهِرَ الاثمِ وبَاطِنَهُ» (الانعام سورت/ ۱۲۰ ایت)

ښکاره او پټه ګناه پرېږدئ!

او یا:«ولَاتَقرَبُوا الفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ منهَا وَمَا بَطَنَ» (سورت الانعام/ ۱۵۱ ایت)

ظاهر او باطني ګناه ته مه نېږدې کېږئ!

دې ډول توبې ته په الهي کلام قران عظیم الشان کې د نصوح توبه وېل شوې ده او هر بنده پر دې مکلف ګڼل شوی دی چې د نصوح توبه وکړي.

«یَاَیَهَا الَذینَ ءَامَنُوا تُوبُو اِلَی الله تَوبَةً نَصُوحًا «(سورت التحریم/ ۸ ایت)

(یعنې اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی، توبه وکاږئ د الله په نزد په کلکې توبې سره)

توبه د مرشد په وړاندې د یوې ژمنې او عهد په توګه ګڼل کېږي، چې د »بیعت «په نوم یادېږي. د صوفیانو بیعت د شیخ عبدالقادر ګیلاني قدس الله سره العزیز په وخت کې رامنځته شو، چې خلک به ډلې ډلې د توبې او د متابعت لپاره ورته راتلل. قراني آیات هم حضرت رسول الله (ص) ته د صحابه وو د متابعت په هکله اشاره کړې او فرمایي چې:

«لَقد رَضِیَ اللهُ عَنِ اَلمُومنینَ اذ یُبَایعُونَکَ تَحتَ الشَجَرَته» (الفتح/ ۱۸ ایت)

(په رښتیا سره چې الله (ج) له مومنانو څخه خوښ شوی، هغه وخت چې کله یې تر ونې لاندې له تاسره بیعت وکړ.) بل ځای فرمایي:

«انَ الَذینَ یُبَایعُونَکَ اِنَمَا یُبَایعُونَ اللهَ یَدُالله فَوقَ اَیدیهم» (الفتح/ ۱۰ ایت)

یعنې ( په تحقیق سره هغه څوک چې ستا سره بیعت کوي، لکه له الله سبحانه وتعالی سره چې بیعت کوي او د الله(ج) لاس د دوی په لاس باندې دی.) (۷/ ۱۰۲)

وروسته تر دې بیعت صوفي د خپل مرشد څخه د الله سبحانه وتعالی ذکر د وظیفه په توګه اخلي، د ذکر وثوقیت هم د قران شریف په ګڼو ایتونو سره ثابت دی؛ لکه:

« وَاذکُر رَبَکَ فی نَفسکَ تَضَرُعاً وَخیفَةً وَدُونَ الجَهرِ منَ القَولِ بِالغُدُوِ وَالاَصَالِ وَلَـاتَکُن مـنَ الغَـافلینَ» (الاعراف سورت/ ۲۰۵ ایت)

او یاد کړه خپل پروردګار په خپل نفس کې په زارئ سره او په لوړ غږ سره، شپه او ورځ او

غافل مه اوسه.

د ذکر په باب يو بل رانازل شوی قراني ايت زموږ او ستاسو سره د غونډ تصوف د حقيقت جوتولو په لاسوند کې د بل هر هغه په پرتله بشپړه مرسته کولای شي. هغه مبارک ايت شريف دا دی چې: «اَلَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللهَ قِيَاماً وَقُعُوداً وَعَلَى جُنُوبِهِم وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ السَّمواتِ وَ الاَرضِ رَبَّنَا مَا خَلَقتَ هَذَا بَاطِلاً سُبحَانَکَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ» (ال عمران سورت/ ۱۹۱ ايت) يعني: هغه کسان چې د خدای تعالی ذکر په ولاړو، ناستو او په پروتو سره کوي او د اسمانونو او ځمکې په اړه يې فکر کوي او بيا وايي چې اې الله سبحانه وتعالی تاسو دا شيان عبث نه دي پيدا کړي، پاکې ده تاسو لره، موږ د دوزخ له اوره څخه وساته. نو اوس که چېرته د دې مبارک ايت شريف مفهوم ته په ژور نظر وکتل شي ترې څرګندېږي، چې داسې کسان پرته له صوفيانو څخه بل څوک نه شي کېدای؛ ځکه په ډېری تصوفي طريقو کې چې کله مريد ته وظيفه ورکول کېږي، نو لومړی وظيفه يې د زړه هغه وي. مريد تر اوداسه وروسته پير يا شيخ ته مخامخ کېني، خپلې ګونډې ورسره جنګوي او پير يې درې ځلې له ښي تي څخه د لاندې برخې په کېښکلو سره وظيفه ور القاء کوي، له هغې وروسته مريد پر دې باندې مکلف ګرځول کېږي، چې هر وخت به خپل زړه ته په توجه سره، غاښونه ټينګوي او ژبه به په پورتني تالو پورې نښلوي او د «الله الله» ذکر به کوي. د وخت په تېرېدو سره يې الفاظ ختم شي او مفهوم يې د مريد پر زړه باندې نقش شي، بيا که مريد ويده هم وي، نو زړه يې د الله سبحانه وتعالی ذکر کوي. نو ځکه د نقشنديي طريقې پيرو او د مياعمر خليفه قدس الله مريد حضرت احمدشاه بابا په خپله يوه بيت کې دا ادعا کوي چې:

زه که ناست يم که ويده يم که په لار روان يم څه يم
همېشــــــــه په دې ثنا يم څه ښه نوم دی يا الله

په قران شريف کې هم ګڼ شمېر ايتونه د زړه او د هغه اصلاح په اړه راغلي دي او حتی په ځينو ايتونو کې خو يې آن د انسان له اخروي عذابونو څخه د ژغورنې يوازينۍ سرچينه د زړه سلامتيا او اصلاح بللې ده؛ لکه:

«يَومَ لَايَنفَعُ مَالٌ وَلَابَنُونَ، اَلَا مَن اَتَیَ اللهَ بِقَلبٍ سَلِيمٍ» (الشعرا سورت/ ۸۸ او ۸۹ ايتونه)

يعني: کله چې مال او اولاد هيڅ ګټه نه شي رسولای، خو هغه څوک چې زړه يې پاک وي د الله (ج) لوري ته به راشي.

دلته کله چې مريد د الله سبحانه وتعالی د ذاتي صفاتو ذکر کوي، نو زړه يې دومره روښانه شي، چې آن د تېرو، اوسنيو او راتلونکو پېښو او حوادثو په اړه پوه شي. يعنې د زړه نه يې يو ډول د جم جام جوړېږي، چې په کې ټول څيزونه او پديدې څرګندېږي؛ لکه عبدالرحمان بابا چې فرمايي:

هغه زړه چې خدای روښان کا جام جم شي
په دا جام کې ورښکاره تمــام عالــم شي

د پښتو ادب پلار حضرت خوشحال خان خټک چې خپله هم د شيخ رحمکار بابا له مريدانو څخه ؤ، په خپلو لاندې بيتونو کې دې موضوع ته نغوته کوي:

د درويش په زړه کې درست کتاب مرقوم دی
که په خــــوله يې د عــــربو لغت نه زده

دا هم ښايي د دې له لامله وي، چې په يوه قدسي حديث شريف کې راځي، چې الله سبحانه وتعالی فرمايي، چې ما ته بنده په هيڅ شي سره نه رانيږدې کېږي، مګر د خپلو فرضو په ادا کولو او د نفلو په اجرا کولو سره رانيږدې کېدای شي، آن تر دې پورې چې زه د ده سترګې شم، چې دی ليدل پرې کوي، زه د ده غوږونه شم چې دی اورېدل پرې کوي، زه د ده لاسونه شم چې دی يو څه

پرې را اخلي، زه د ده پښې شم چې دی یو ځای ته پرې ځي. نو کله چې بلاکیفه د یوه چا وجود تر دې حده د الله سبحانه وتعالی په انوارو سره منور شي، نو د الله(ج) علم خو محدود نه دی؛ ځکه قراني ارشاد دی چې:

«اَلَمْ یَعلَمُوا اَنَ اللهَ یَعلَمُ سِرَهُم وَ نَجوَهُم وَ اَنَ اللهَ عَالَمُ الغُیُوب» (سورت توبه/ ۷۸)

ایا دوی نه پوهېږي چې الله سبحانه وتعالی د دوی پر پټو رازونو او ګونګوسو باندې ښه پوهېږي، بې له شکه چې الله (ج) په ډېرو غیبو پوهېدونکی دی.

نو ځکه د ده علم هم تر دې حده رسېږي، چې د ټولو تېرو، اوسنیو او راتلونکو پېښو او حوادثو په اړه معلومات په کې پراته وي. هغه پوهه چې نورو له بل چا څخه تر زده کړې وروسته لاسته راوړې وي، صوفیانو هغه څه په خپلو سترګو لیدلي او مشاهده کړې وي. د ابوسعید ابوالخیر په اړه ویل شوي دي، چې یوه ورځ کوم فیلسوف ورسره بحث کاوه، تر بحث وروسته فیلسوف خپلو پلویانو ته مخ ور واړاوه او ورته ویې ویل چې په هغه څه چې زه علم لرم ابوسعید ابوالخیر هغه عملاً په خپلو سترګو ویني. د تصوف یو پېژند هم د هغه د نقشبندیې لارې (طریقې) سرلارې حضرت بهاوالدین نقشبندي (رح) داسې کړی دی چې:

«اجمالي چارې تفصیلي کېدل او استدلالي علم کشفي کېدل تصوف دی.»(۶/ ۱۸)

دا د حلول او اتحاد خبره نه ده، بلاکیفه د انسان روح او باطن الله سبحانه وتعالی ته دومره نېږدې کېږي چې آن ورڅخه په یوه وجود اطلاق کېږي، آن تر دې پورې چې کله بیا له هغې سرې سره څوک د جګړې او یا ورته د زیان رسولو هڅه وکړي، له لامله یې خدای تعالی خپله د مقابل اړخ سره د جګړې اعلان کوي. چې لاسوند یې هم دا حدیث شریف دی، چې په کې د خدای(ج) له اړخه ویل شوي:

«چې څوک زما له ولي سره جګړه کوي، زه خپله له هغې سره جګړه کوم.»

خو اوس خبره دا ده، چې مرید څنګه په دې وپوهېږي چې زه دې مقام ته رسېدلی یم؟ ځکه دا ډول ډېری تصروفات خو له اسلام څخه پرته د نورو دینونو ګروهمن هم کولای شي، همدا لامل دی چې مرید بویه خامخا یو مرشد او لارښود ولري، هغه مرشد یې بویه داسې څوک وي، چې هم په شریعي علومو کې بشپړ معلومات ولري او هم په تصوفي هغه کې؛ دا ځکه چې د اذکارو د کثرت له لامله سالک د داسې مشاهدو او تجربو سره مخامخ کېږي، چې تر دې وړاندې یې په خوا خواطر کې هم نه شوای تېرېدای، دا تجربې او مشاهدې هم سالک سمې لارې ته سوق کولای شي او هم ناوړه هغې ته، چې دې دویمې هغې ته یې په شریعت کې د استدراج نوم ورکړل شوی دی، استدراج یو ډول توهم دی، سالک او صوفي داسې فکر کوي چې پر سمې لارې روان دی، خو په حقیقت کې یې د شریعت او طریقت دواړو له سپېڅلو فرامینو څخه انحراف کړی وي. د دې سمې او ناسمې لارې ترمنځ تفکیک چې مرشد او پیر په خپلې پوهې او تجربې سره ونه کړي، نو ښایي مرید ته د تصوف پر کړکېچنې لارې یون د ګټې پر ځای زیان ډېر واړوي.

ورکه موندی نه شي بې رهبره بې سراغه

**پایله**

د پایلې په توګه ویلای شو، چې تصوف له قران کریم او سنتو څخه ماخوذ دی، حتی چې تصوفي اصطلاحات هم په قران کریم کې ذکر شوی او د اسلامي شریعت د سپېڅلو فرامینو او نصوصو سره کوم ښکاره یا پټ ټکر نه لري، که څه هم په نوم یې په نبوي مبارک وخت کې کوم څه نه ؤ، خو بیا یې هم روح او حقیقت موجود ؤ او ترې نته کول له حقیقت څخه نته کول ګڼل کېدای شي.

دا چې د ځینو عاملینو په کړنو کې یې د اسلامي سپېڅلي شریعت د فرامینو څخه انحراف تر سترګو کېږي، دا یوازې او یوازې په خپله په هغوی پورې اړه لري او موږ ته نه ښایي چې تصوف او په ټوله کې حقیقت په افرادو سره وپېژنو.

**اخځلیکونه**

۱- قرانکریم

۲- الفت، ګل پاچا. (۱۳۸۴). **د ټولنې په جوړښت کې د اسلام نقش.** پېښور: دریم چاپ. دانش خپرندویه ټولنه.

۳- اشرف عبدالمقصود عبدالرحیم. (۱۳۸۰). **ویژگی‌های مومن در قران کریم وسنت رسول گرامی اسلام و گفتار بزرگان.** ترجمه سیداحمد قتالی کبرزانی. مشهد: انتشارات دانشگاه فردوسي.

۴-ښنکلی، اجمل. (۱۳۹۴). **تصوف او ادب.** ننګرهار: مومند خپرندویه ټولنه.

۵- مومند، عبدالحمید. (۱۳۸۳). **د عبدالحمید مومند کلیات.** د اصف صمیم سریز، تدوین او ویپیانګه. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۶- ناګار، فضل ولي. (۱۳۸۸). ***عرفان او د پښتو ادب په لرغوني دوره کې یې ځرکونه.*** ننګرهار: ناګار خپرندویه ټولنه.

۷-نقشبندي، امین علاء الدین. (۱۳۸۹). **د تصوف حقیقت او د نقشبندیه طریقي یو بحث.** کابل: میوند خپرندویه ټولنه.

۸- نقشبندي، ذوالفقار احمد. (۱۳۹۲). **تصوف او سلوک.** د سعدالله غزنوي ژباړه. کندهار: صدیقي خپرندویه ټولنه.